**لــوړو زده کـــړو وزارت**

**خـــراســان پوهنتـــون**

**علمي چـــارو معــاونيت**

# د ټولنې په پرمختګ کې د ونډې اخيستنې تګلاره

کال ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ ۱۴۰۰ هـ ش

**د ټولنې په پرمختګ کې د ونډې اخیستنې تګلاره**

د لوړو زده کړو مؤسسات  د ټولنې، سیمې او د ملي پرمختیا په برخه کې ارزښتناکه ونډه لري، دا کړنه د هغوی په ستراتیژیکو موخو کې راځي. د هري علمي مؤسسې مسؤلیت دا دی چې ټولنې ته علمي کادرونه وروزي، د ټولنې مشکلاتو ته په کتو سره خپلې کړنې عیاري کړي چې د دې لارې به یې ټولنې ته هوساینه او پرمختګ ورکړی وي. ددې هدف لپاره هره علمي مؤسسه هڅه کوي، تر څو معیاري خدمات ټولنې ته وړاندې کړي، او د ټولنې مشکلاتو ته پر وخت حل لارې ومومي.

خراسان پوهنتون خپل لرلید او ماموریت ته په کتو سره په ټولنه کې د پرمختګ ونډې اخیستنه لپاره همیشه کوښښ کوي، نو د همدې مقصد لپاره یې همدا پالیسي- جوړه کړې ده چې اساس به یې د ټولنې د پرمختګ په برخه کې پوره ونډه اخیستنې وي، دا ونډه اخیستنه په درو اساسي برخو کې صورت نیسي لکه اکاډمیک فعالیت، د کارکوونکو بوختیا او ونډه او د محصلینو بوختیا.

1 **-اکاډمیک فعالیت**

پدې برخه کې څیړنیز او علمي پروګرامونه د لوړو زده کړو مؤسسې ماموریت د یو عامل په توګه د ټولنیزې، اقتصادي او کلتوري پراختیا لپاره منعکس کوي.

**الف: څیړنیز پروګرامونه**

1. مؤسسه د ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري پراختیا لپاره څیړنیزې کړنې تر سره کوي.
2. په ټولنه کې د ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري پراختیا په برخه کې د څیړنیزو کړنو لپاره پوښتنپاڼې جوړوي او سروې تر سره کوي.
3. نوموړې پوښتنپاڼې راټولوي او د سروی تحلیل یې راباسي.
4. د نوموړې تحلیل پر اساس د څیړنو لومړیتوبونه مشخصوي.
5. د نوموړو لومړیتوبونو پر اساس مؤسسه د څیړنې کلنۍ پلان جوړوي.
6. د پلان مطابق نوموړې څیړنې پر استادانو او محصلینو باندې ویشي.
7. تکمیل سوې څیړنې د استادانو او محصلینو څخه راټولوي او لستونه یې جوړوي،
8. نوموړې څیړنې د مربوطه سکتوري ادارو سره شریکوي.
9. شریکې سوې څیړنې وروسته د کنفرانسونو په شکل ارائیه کوي.

د خراسان پوهنتون د ټولنې په پرمختګ کې د ونډې اخیستنې تګلاره‌د دې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخې غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

10. ارائیه سوي څیړني په ملي او نړیوالو ژورنالونو کي خپریږي، او د ټولني د عامو وګړو د استفادی او د ټولني د پرمختګ وړ ګرځي.

**ب: تدریسي پروګرامونه**

1. د مارکیټ د غوښتنو مطابق د تدریسي بهیر د نوي کولو لپاره پلان جوړول.
2. د مارکیټ غوښتني د تدریسي بهیر په اړه راټولول.
3. د مارکیټ د غوښتنو تحلیل کول.
4. په درسي مفرداتو کي د مارکیټ غوښتني او نړیوال معیارونه ځاي پر ځاي کول.
5. په درسي بهیر کي د ټولني د سمون په موخه د اداري فساد په وړاندي د مبارزی اضافه کول.
6. په درسي بهیر کي د ټولني د سمون په موخه د اداري او مسلکي اخلاقو اضافه کول.
7. په درسي بهیر کي د ټولني د سمون په موخه د اداري مکاتبی ( اداري پروسیجر) اضافه او تطبیق کول.
8. د مارکیټ د غوښتني مطابق د تدریسي بهیر نوی کول.

2 -ټول علمي او اداري کارکوونکي د ټولني، سیمي او هیواد په سطحه په داسي کړنو کي شکیل دي، چي هیواد د پرمختګ سره مرسته کوي. دوي مؤسسې په استازیتوب په ټولنه کي فعاله او رغنده ونډه اخلي، تر څو د ټولني، سیمي او هیواد د پرمختګ سره مرسته وکړي.

**الف: د ملي او نړیوالو ورځو لمانځل:**

د ملي او نړیوالو ورځو د لمانځلو لپاره پلان جوړول.

د نشراتو مدیریت له لوري مربوطه ادارو ته د پلان مطابق خبر ورکول.

نوموړي اداري په خپل وخت کي د پلان مطابق ملي او نړیوالي ورځي لمانځي.

**ب: د مؤسسې څخه بهر په ټولنه کي ونډه اخیستل**

1 .مؤسسه بهر د ادارو سره اړیکي جوړوي او د دوی سره تفاهم لیکونه لاسلیکوي.

2 .د مربوطه ادارو څخه لیدنه کوي.

3 .د مسلکي اشخاصو په واسطه د دوي مشکلات راباسي.

4 .د دوي مشکلاتو ته د حل لاره پیدا کوي.

5 .نوموړي مشکلاتو ته د حل به خاطر پلان جوړوي.

د خراسان پوهنتون د ټولني په پرمختګ کي د ونډي اخیستني تګلاره د دې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

6 .د مؤسسې علمي او اداري کارکوونکي نوموړي ادارو ته ځي او د دوي سره د مشکل د حل په خاطر عملي کړني تر سره کوي.

**ج: په ملي او نړیوالو کنفرانسونو کي ونډه اخیستل**

1 .مؤسسه د ملي او نړیوالو ادارو سره اړیکي نیسي.
2 .مؤسسه د ملي او نړیوالو ادارو څخه په کانفرانسونو کي د ونډي اخیستني بلنلیکونه تر لاسه کوي.
3 .مؤسسه خپل علمي او اداري کارکوونکي د ګډون لپاره مربوطه ادارو ته استوي.
4 .نوموړي علمي او اداري کارکوونکي خپلي تجربې په مؤسسه کي د نورو علمي او اداري کارکوونکو سره شریکوي.

**۳: د محصلینو بوختیا او ونډه:**

په دې برخه کي د لوړو زده کړو مؤسسه محصلین له خپل لیرلید، رسالت، ستراتیژیکو اهدافو او د ټولني، سیمي او هیواد د پرمختګ اړوند اقداماتو څخه خبروي تر څو دوي دخپلې ژمنتیا چي د ټولني له پرمختګ سره یې لري باخبره سي. مؤسسه دوي هڅوي تر څو مخامخ هر هغه څه چي شوني وي، په کې شکیل و اوسي.

**الف: د مؤسسې په سطحه د محصلینو بوختیا:**

1 .پوهنتون محصلین د پوهنتون له خپل لیرلید، رسالت او ستراتیژیکو اهدافو څخه چي د ټولني په اړه یي لري خبروي.
2 .پوهنتون خپلو نوو محصلینو ته د ښه راغلاست ( اورینټیشن) پروګرام دایروي.
3 .خراسان پوهنتون دبروشور په واسطه محصلین د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چي د ټولني په اړه یی لري خبروي.
4 .پوهنتون محصلینو د خبراوي په موخه لیرلید، رسالت او ستراتیژیک د اعلاناتو په بورډ کې نصبوي.
5 .خراسان پوهنتون د محصلینو د لارښود کتاب په واسطه محصلین د خپل لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چي د ټولني په اړه یي لري خبروي.

د خراسان پوهنتون د ټولني په پرمختګ کي د ونډې اخیستني تګلاره د دې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

6 . خراسان پوهنتون محصلین د پوهنتون د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو په رڼا کي ټولني، سیمي او هیواد د پرمختگ اړوند اقداماتو څخه خبر وي. دوي تر ډیره حده د خپلي ژمنتیا مطابق د ټولني پرمختګ ته ژمن دي، او دوي په مختلفو برخو کي هر چیري چي شونی وي شکیل دي.

7 .محصلین په ټولنه کي په خاصو کړنو او پروګرامونو ( د وینې ورکړه، د چاپیریال ساتني په برخه کي په ټولنه کي کار کول، عام المنفعه کارونه تر سره کول، په سپورټي کمپاینونو کي برخه اخیستل) کارونو کښي مستقیماً دخیل دي.

**ب: د پوهنځی په سطحه دمحصلینو بوختیا:**

1 .پوهنځی محصلین د خپل لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چي د ټولني په اړه ئې لري خبروي.

2 .پوهنځی خپلو نوو محصلینو ته د ښه راغلاست ( اورینټیشن) پروګرام دائروي.

3 .پوهنځی د بروشور په واسطه محصلین د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چي د ټولني په اړه ئې لري خبروي.

4 .پوهنځی د خبراوي په خاطر محصلین د لیرلید، رسالت او ستراتیژی د اعلاناتو په بورډ کي نصبوي

5 . پوهنځی د خپل کتلاک په واسطه محصلین د خپل لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چي د ټولني په اړه ئې لري خبروي.

6 . د پوهنخي محصلین د پوهنځی د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو په رڼا کي د ټولني، سیمي او هیواد د پرمختګ اړونده اقداماتو څخه خبروي. دوي تر ډیره حده د خپلي ژمنتیا مطابق د ټولني پرمختګ ته ژمن دي او په مختلفو برخو کي هر چیري چي شونی وي شکیل دي.

7 .محصلین په ټولنه کي خاصو کړنو او پروګرامونو ( د ویني ورکړه، د چاپیریال ساتني په برخه کي په ټولنه کې کار کوي، عامه المنفعه کارونه تر سره کول، په سپورټي کامپاینونو کي برخه اخیستل) کي مستقیم دخیل دي.

**ج: د څانګي په سطحه د محصلینو بوختیا:**

1 .څانګه محصلین د خپل لیرلید، رسالت او ستراتیتژیو څخه چي د ټولني په اړه ئې لري خبروي.

د خراسان پوهنتون د ټولني په پرمختګ کي د ونډې اخیستني تګلاره‌د دې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

2. ځانګه خپلو نوو محصلینو ته د ښه راغلاست ( اورینټیشن) پروګرام دائروي.
3. ځانګه د بروشور په واسطه محصلین د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چې د ټولني په اړه ئې لري خبروي.
4. ځانګه دمحصلین د خبراوي په خاطر لرلید، رسالت او ستراتیژي د اعلاناتو په بورډ کې نصبوي.
5. ځانګه د خپل کتلاک په واسطه محصلین د خپل لیرلید، رسالت او ستراتیژیو څخه چې د ټولني په اړه ئې لري خبروي.
6. ځانګه محصلین د ځانګي د لیرلید، رسالت او ستراتیژیو په رڼا کې د ټولني، سیمي او هیواد د پرمختګ اړونده اقداماتو څخه خبروي. دوي تر ډیره حده د خپلي ژمنتیا مطابق د ټولني پرمختګ ته ژمن دي او دوي په مختلفو برخو کې هر هغه او هر چیري چې شوني وي شکیل دي.
7. محصلین په ټولنه کې خاصو کړنو او پروګرامونو ( د وینې ورکړه، د چاپیریال ساتني په برخه کي په ټولنه کې کار کوي، عامه المنفعه کارونه تر سره کول، په سپورټي کامپاینونو کې برخه اخیستل) کې مستقیم دخیل دي.

د خراسان پوهنتون د ټولني په پرمختګ کي د ونډي اخیستني تګلاره د دې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.